# د اروانښاد ډاکټر کبیر ستوری
# یاد غونډه او مشاعره

رپورټ: د خاص کونړ د ادبي او کلتوري ټولنې له خوا

## د کبیر ستو ر ي  لیسې ګڼو زده کوونکو پکې برخه واخسته

د خاص کونړ ولسوالۍ د ادبي او کلتوري ټولنې په نوښت د هېواد د وتلي او منلي فرهنګي شخصیت اروانښاد کبیر ستوري د (۷) تلین یادغونډه او مشاعره د روان کال د حمل د میاشتې په ۱۲ نیټه د خاص کونړ ولسوالۍ د کبیر ستورې لیسې په انګړ کې جوړه شوه.

په غونډه کې د خاص کونړ ځوان او فرهنګپال ولسوال ښاغلي محمد رحمن دانش ،د نرنګ ولسوال ښاغلي سید زیور شاه پاچا صاحب ،د دره پیچ ولسوال قدرمن زلمی یوسفزي او په مشرانو جرګه کې د کونړونو ولایت استازي سناتور رفیع الله حیدري  برخه واخسته. دغه راز د یو شمیر دولتي چارواکو ،د محلي اونظامي ارګانونو، سرحدي پولیسو ملي او محلي پولیسو او ملي امنیت منسوبینو او د ډاکتر کبیر ستوري د لیسې یو شمیر شاګردانو سربېره ګڼ شمیر لیکوالانو، شاعرانو او ادیبانو  او ولسي مشرانو هم برخه درلوده

غونډه د جمعې په ورځ د سهار په ۹ بجو د قاري رحمت الله له خوا د کلام مجید د څو ایاتونو په تلاوت سره پیل شوه.

په لومړي قدم کې د خاص کونړ د ادبي او کلتوري ټولنې مشر او د ستوري مجلې مسؤل مدیر ښاغلي عرفان الله کوټوال له خوا راغلیو مېلمنو، دولتي چارواکو، لیکوالانو او شاعرانو ته د ستړي مشي او هرکلي مراتب وړاندي شول.

ورپسې د خاص کونړ ولسوال ښاغلي محمد رحمن دانش صاحب د اروانښاد داکتر کبیر ستوري په معنوي هڅو هراړخیزه رڼا واچوله او غونډه ئې پرانیستله.

د غونډې د مشاعرې برخه د پښتو ژبې نومیالي شاعر ښاغلي محمد اسرایل غیرت په شعر سره پیل شوه، ورپسې د پښتو ژبې ځوانو او تاندو شاعرانو هر یو ښاغلیو خالد رحماني، واجدالله، امین الله، اکرام الله، شفیع الله تاند، ضیاء الله، نواب ریحان، رمضان صائم، فضل الدین، محمد الله میوند، خان اغا اختیار، انعام الله میرزاخیل، سبحان الله، عزت الله خیلیل زی، حمید الله همت، سید نور، ثناء الله، حضرت عمر یوسفزی، عبدالمنیر ځلاند، محمد یونس، صدیق ریحان، مسلم مومند، سمیع الحق یوسفزی، شریف الله شریفي، شیرعلي نیکمل، خلیل الله تکل، ګلرنګ

کوچوان ، سورګل ګوهر او ښاغلي ډګر خپل شعرونه د غونډې ګډونوالو ته واورول چې په چکچکو بدرګه کیدل

دغه راز د مشاعرې په مینځ کې دره پیچ ولسوال ښاغلي زلمي یوسفزي د خپلو خبرو په لړ کې د ادبي او کولتوري بهیر په ګټو رڼا واچوله.د مشاعري په پای کې د ننګرهار ولایت څخه راغلي دروند مېلمه د اریانا پوهنتون مرستیال محمد انور ظفري صاحب د ستوري صاحب په اړوند هر اړخیزي خبرې وکړې او پداسې وختونو کې یې د دولتي غونډو جوړول اړین وبلل او هم یې د دې غونډې د ترتیب کوونکو څخه مننه او خوښي څرګنده کړه چې زیاربې ایستلی او دغه ښکلې غونډه یې جوړه کړې وه.

ورپسې په مشرانو جرګه (سنا ) کې د کونړ د خلکو استازي ښاغلي رفیع الله حیدري د ډاکټر کبیر ستوري په کولتوري او سیاسي هلو ځلو رڼا واچوله او د خاص کونړ د خلکو د ستونزو په حل کولو کې ئې د خاص کونړ ولس ته د خپل هر اړخیز ملاتړ ډاډ ورکړ

د غونډې اخیرنی ویناوال نصیر ستوري ؤ چې د غونډې برخوالو او ګډونکو ، دولتي چاروا کو ، شاعرانو او لیکوالانو څخه یې مننه او کورودانې وکړه او همدغه راز یې د خاص کونړ ادبي او کلتوري ټولنې دغه هڅې وستایلې چې د غونډې په راجوړولو کې یې کړې دي. د غونډې څخه په تاثراتو کې د خوښۍ له څرګندلو وروسته په بیا د خاص کونړ ادبي او کلتوري ټولنې له خوا نه همدا ډول د خاص کونړ ولسوالۍ د فرهنګپال ولسوال ښاغلي محمد رحمن دانش صاحب او د خاص کونړ ټولنیزي شورا لخوا تیارې شوې ډالۍ د غونډې په ځانګړو مېلمنو ، مشرانو او کدرونو وویشل شوې

غونډه د ښاغلي استاد محمد شریف په دوعایه سره پای ته ورسیده.

ورسته د خاص کونړ ادبي او کلتوري ټولنې لخوا د غرمې ډوډۍ مېلمنو ته ورکړل شوه او غونډه په همدغه ځای د مېلمنو سره په مخه ښه باندې خوره شوه.